# د خوشحال بابا په شعر کښې د اصحاب کرامو یادوُنه

## The Memories of Suhaba in the Poetry of Khushal Baba

Dr. Badshah Rome ali Khel Daryab*

ABSTRACT

The poetry of Khushal khan khattak treats a wide range of different topics. Persons and personalities is of one the multitudes of significant subjects that finds expression in khushal khan's poetic output. In this regard he has mentioned about three hundred and twenty five persons and personalities belonging to different walks of life .Among these the companions of the Holy prophet, the Ashab-e-kiram, are noteworthy. This paper studies those verses of khushal khan khattak which deals with the exalted and matchless character of the Ashab.i.kiram.

د ستر خوشحال شعر د موضوعاتو له رویه ډیر موړ او غني دے. په دغه اساس د پښتو شاعرۍ په تاریخ کښې خوشحال بابا وړومبے شخصیت دے، چې مونږ ئې د موضوعاتو په حواله متنوع شاعر ګڼو. په دې چې د خوشحال بابا نه وړاندې د پښتو شاعرۍ لمن په دغه اړه ډیره تنګه وه او شاعران ئې د محدود موضوعاتو نه چاپیره تاویدل خو دا د ستر خوشحال هنري کمال او فکري بوقلموني ده، چې پښتو او پښتانه دواړه ئې د نوؤ موضوعاتو سره نه یوازې اشنا کړل، بلکې خپل تقلید ته ئې وګمارل. او دغه مزے دهغه وخت نه تر دې دمه رااوغزید.

خوشحال بابا چې خپل شعر ته په کومو موضوعاتو ښکلا بخښلې ده، په هغوي کښې یوه موضوع د شخصیاتو هم ده. بابا په دغه ضمن کښې د

* Chairman Department of Pashto University of Malakand

ژوند د مختلفو طبقو درې سوه پنځویشت شخصیات او کردارونه پخپل کلام کښې رانغتي دي. چې پکښې د نورو نه علاوه سترې علمي ،مذهبي، او دیني هستۍ په دغه فهرست کښې شاملې دي. د خوږ نبي (ص) اصحاب کرام هم په بیلا بیلو حوالو خوشحال بابا په شعر کښې ستائیلي دي. دې لیکنه کښې د بابا هم هغه کلام سنجولې شي په کومو کښې چې هغه د خوږ نبي(ص) دغه میئنان او سر تیري ملګري ذکر کړي دي.

حضرت ابوبکر صدیق (رض) د نبي پاک (ص) جلیل القدر صحابي او غار یار دے، د هغوي یادؤنه څه په دا ډول کوي.

د اسمان د ستوروهم و بله کښې فرق دے
ځکه غوره په یارانو کښې صدیق شو (۱)

راشه که ګورې اهل نا اهل
یو ابو بکروه بل ابوجهل
په ابو بکر محمد نمر وه
په ابوجهل تر سها سهل (۲)

دے د دین په کار صدیق ؤ
ځکه نوم دده عتیق ؤ (۳)

د حضرت ابوبکر (رض) لقب عتیق ؤ، حضرت عائشه (رض) د روایت تر حضور(ص) وفرمائیل چې ابوبکر "عتیق الله من النار" دے، یعني ابوبکر ته الله د جهنم د اور نه نجات بخښلې دے. حضرت علي (رض) فرمائي چې الله تعالیٰ پخپله د نبي (ص) په ژبه مبارکه د ابوبکر نوم "صدیق" ایښې دے.

حضرت ابوبکر د عام الفیل نه درې کاله پس په ۵۷۳ھ کښې پیدا شوې دے. هغه د نبوت نه وړاندې هم د خوږ نبي (ص) ریښتونے دوست ؤ، عمر کښې د پیغمبر نه درې کاله کشر ؤ.........دوئ په ۲۳ اګست ۶۳۴ ء کښې د دنیا نه رحلت وکړو. د خوږ نبي (ص) په رنګ ابوبکر (رض) هم درې شپته کاله ژوند بیاموند. (۴)

دغه رنګ دې لاندې اشعارو کښې د څلورو اصحاب کرامو د خپلې مينې او بې کچه عقيدت اظهار کړې دے، وائي

تر هلال او تر بلال ئې صدقه شم
لا رانجه مې د پله خاورې د بوذر دی (۵)
د بوذر او د سلمان ئې درويز ګر يم
تل د دوئ په محبت دے زما ژواک (۶)
نه دي د قسيس رهبان قائم په خپل مذهب کښې
نه زر قسيس رهبان نه يو سلمان د محمد (۷)

دې شعرنو کښې د حضرت هلال، حضرت بلال، حضرت سلمان فارسي او حضرت ابوذر تذکره ده.

**''حضرت هلال''**

''د عربو د مشهورې قبيلې اوس سره تعلق ساتلو، دوئ ددغې قبيلې په خاندان '' واقف'' کښې سترګې غړولې وې. د مور بيبي نوم ئې اميه ؤ.ده د بيعت عقبه دوئم نه پس ايمان راوړو.د غزوه تبوک نه علاوه ئې په نورو ټولو جنګونو کښې برخه اخستې وه. غزوه تبوک کښې د برخې نه اخستلو په وجه حضور(ص) او اصحابو د دوئ سره خبرې اترې پرېښې وې،ده به پخله دغې غلطۍ شپه او ورځ ژړل،اخر چې بخښننه ئې وشوه.ده د تبوک په پېښه کښې د نورو خلقو په خلاف ريښتيا ريښتيا اووئيل او هم ددغه ريښتونې ګواهۍ د ده د صداقت او حق ګوئۍ رعب د خلقو په زړونو کښې کښيناست.....دوئ د حضرت معاويه په دور کښې وفات موندلې دے. (۸)

**''حضرت بلال''**

د حضرت بلال کنيت ابو عبدالله ؤ، د پلار نوم ئې رباح ؤ، او مور ئې حمامه نوميده.له اصله حبشي ؤ په مکه کښې پيدا شوې ؤ.او د اميه بن خلف غلام ؤ. (۹)
دوئ د هغه اووه کسانو نه ؤ چا چې وړومبے اسلام قبول کړې ؤ.د اسلام قبولولو په وجه اميه بن خلف ډېر تکليفونه رسولې وو.تر دې چې په مرۍ

کښې به ئې ورته رسی، واچواله او په رانښکلو رانښکلو به ئې ورله ساه بنده کړه، ولې د توحيد سپيځلي شرابو چې هغه ته کومه نشه بخښلې وه هغه په دې چرته کميده.

ابوجهل به په ګټکو پرمخ ځملولو. لوئ لوئ کاڼي به ئې پرې د پاسه کيښودل، او چې د نمر ګرمي به ښه زياته شوه نو تپوس به ئې ترې وکړو، " بلاله اوس هم د محمد د خدائې نه نه اوړې؟" د نبوت دغې سرتيرې پتنګ به دغه وخت هم وئيل " احد" چې خدائې يو دے، خدائې يو دے. دغه حالت کښې يوه ورځ ابو بکر (رض) وليدو په بيعه ئې واخستلو او آزاد ئې کړو. (۱۰)

حضرت بلال د شلمې هـ خواو شا د شپيته کالو په عمر کښې وفات شو. او د دمشق د باب العيفر سره نزدې خاورو ته وسپارلې شو. (۱۱)

## " حضرت ابوذرغفاري"

دده کنيت ابوذر او نوم ئې جندب بن جناده ؤ. دے د حضور (ص) د بعثت نه وړاندې هم د زيات عبادت دپاره مشهور ؤ. په اسلام راوړونکو کښې دده پنځم نمبر ؤ. ......د توکل خو ئې دا حال ؤ چې د سبا دپاره ئې د ځان سره خرچه هم نه پريښوده. د حضرت عثمان (رض) په دور خلافت کښې هغوي د حد نه زيات د زهد وتقوي په لړ کښې د يو خاص نقطه نظر تبليغ شروع کړو. د هغوي دا نقطه نظر تر ډيره حد ه اشتراکيت ته نزدې ؤ. ځکه نو حضرت عثمان ته د هغوي دا ادا خوښه نه شوه. او هغه ئې ربدے ته جلا وطن کړو. او هم هلته په ۳۲ هـ کښې وفات شو. (۱۲)

## " حضرت سلمان فارسي (رض) "

د دوئ کنيت ابو عبدالله دے، او د حضور ص) آزاد کړې شوې غلام دے. د فارس د ښار "" رامهرمز" اوسيدونکے ؤ. آتش پرست ؤ. پلار د آتش پرستو د عبادت خانې منتظم ؤ. سلمان فارسي د ډيرو راهبانو په مجلسونو کښې پاتې شوې ؤ، خو د آتش پرستۍ نه بېزاره شوې ؤ، ځکه ئې دغه دين پريښود او د دين حق په لټون کښې د کوره

ا اوت. او د عیسایانو سره میشته شو، اثر پرې وشو.او عیسائی شو. بیا ډاکوانو ونیؤ او دا رنګ د غلام په توګه ئې خرڅ کړو. پرله پسې لسو کسانو خپل غلام جوړ کړو. کله چې حضور (ص) مدینې ته تشریف راوړو نو دے دغه وخت د یو یهودي غلام ؤ. هر کله چې مسلمان شو نو حضور (ص) دے واخست او آزاد ئې کړو..... په جنګ خندق کښې د مدینې منورې نه چاپیره د خندق کنستلو مشوره هم دوئ ورکړې وه.....انصارو او مهاجرو ټولو د دوئ بې کچه مینه لرله، انصارو به وئیل چې سلمان زمونږ نه دے او مهاجرو به ویئل چې سلمان زمونږ نه دے، کله چې حضور (ص)دا واوریدل نو وې فرمائیل چې سلمان زمونږ نه دے . او دا شان ئې هغه د اهل بیتو نه وګرځوؤ. .... مورخین ددوئ د وفات کال ۱۰ رجب ۳۳ هـ یا ۳۴ هـ یادوي. مزار ئې په مداین کښې دے. (۱۳)

خوشحال بابا د ځنو هغه صحابه کرامو یادؤنه هم کړې ده کومو ته چې الله تعالیٰ په ژوند د جنت زیري اورولي وو. چې ورته عشره مبشره وئیلې شي. وائي

وړپسې طلحه ، زبیر دے
خپل وجود ئې دے نه غیر دے
پنځم سعد دے اې یاره
بیا شپږم سعید وشماره

بیا ابو عبیده نهم دے
بیا عبد الرحمٰن لسم دے (۱۴)

**''حضرت طلحه (رض)''**

دوئ په وړومبنو مسلمانانو کښې دي. د حضرت ابوبکر (رض) په تلقین ئې اسلام قبول کړو. په عشره مبشره کښې دے. او په هغه شپږ اصحابو کرامو کښې دےو څوک حضرت عمر (رض) د خلافت اهل ګڼل. (۱۵)

د حضرت طلحه شمار به جليل القدر صحابه کرامو کيږي، د دوئ د علم وفضل يو جهان معترف ؤ. هم دا وجه ده چې محدثنو دوئ په فضلاء اصحابو کښې شامل کړې دي. اګرچې هغوي د خوږ نبي سره به کلونو کلونو پاتې شوي دي ولې د احاديث د روايت کولو په ترڅ کښې ئې ډېر احتياط نه کار اخستې دے. او صرف دوه نوي احاديث د دوئ نه مروي دي. (۱۶)

**"حضرت زبير (رض)"**

د دوئ نامه زبير بن العوام وه. مور ئې صفيه بنت عبدالمطلب نوميده. چې د خوږ نبي د پلار اړخه ترور وه. .....د حضرت ابوبکر د مسلمانيدو نه لږې ورځې پس دوئ هم اسلام قبول کړو. په دغه اوان د دوئ عمر پنځلس کاله وو، چې تره نو هغه حضرت زبير په انډيرى کښې وتړو او د بوسو لوګے ئې ورته وکړو، چې د اسلام نه واوړي خو هغوي د اسلام نه واپس نه شول. او مسلمانانو سره ئې حبشې ته هجرت وکړو.

د جنګ جمل په اوان حضرت علي ، حضرت زبير ته ورياد کړل چې يوه ورځ مونږ دواړو خندل، نو حضور (ص) تاته وفرمائيل چې نزدې ده چې ته به د علي سره جنګ ته باځې. حالانکې ته به د هغه په حق کښې ظالم ئې. حضرت زبير چې واوريدل نو د ميدان لاړ ، څه موده پس پسې عمرو بن جرموز لاړ او حضرت زبير ئې په وادي البساع کښې شهيد کړو ، دغه وخت د هغه عمر شپږ شپيته کاله وو دا واقعه د جمادي اول ۳۶ هـ ده. (۱۷)

**''حضرت سعد (رض)''**

حضرت سعد بن ابي وقاص (رض) د ۵۹۳ء په اخر کښې د رنګ وبو دنيا ته تشريف راوړو ، دوئ په رشته کښې د حضور (ص) ماما کيده، حضرت سعد فرمائي چې ما د اسلام راوړلو نه مخښکې يوه شپه خوب وليدو ،خوب کښې وينم چې يوه روښانه سپوږمۍ رااوخته،زه ددغې سپوږمۍ د رانيولو په هڅه کښې روان شوم او سوچ کووم چې داسې به څوک وي چې هغوي زمانه ددغې سپوږمۍ په رانيولو کښې وړاندې شي. دغې سوچ او فکر کښې روان يم، څه

ګورم چې حضرت زید بن حارث، حضرت علي او حضرت ابوبکر مې ولیدل ، ما ترې تپوس وکړو چې تاسو دلته کله راراسیدلي یئ. هغوي ځواب راکړو چې مونږ دا دي اوس اوس رااوراسیدو. (۱۸)

ددې خوب نه لږې ورځې پس حضرت سعد (رض) د حضور (ص) سره د اجیاد په تنګي کښې اوولیدل او اسلام ئې قبول کړو. دغه وخت دهغه عمر اوولس کاله وو. د حضرت سعد مورحمنه د ابوسفیان بن امیه لور وه. کله چې د خپل زوي د اسلام نه خبر شوه. نو خوراک څښاک ئې پرېښودل. ...... هغه خپلې مور ډیر منونکې او تابعدار ؤ، دا د هغه دپاره د سخت ازمیښت وخت ؤ، یو ورځ ورته مور اووئیل که ته خپل دین ته واپس نه شوې نو زه هم دغسې په لوږه تنده کښې ځان اووژنم. (۱۹)

" حضرت سعد ورته ځواب ورکړو چې مور که ستا دغسې زر ساه ګانې وې او زر ځله مړه کیدلې نو هم به زه د خپل دین نه واپس شوې نه وې (۲۰)

"په ۵۰ هـ کښې چې د هغه عمر ۷۰ کاله وو. د اجل فرشتې ته ئې هرکلې اووې .....د وفات نه پس د هغه مړې مدینې ته راوړې شو، مروان الحکم د مدینې حاکم ئې جنازه وکړه، په جمات کښې ازواج مطهرات هم په جنازه کښې شریکې شوې او بیا ئې په ډیر احترام په بقیع کښې خاورو ته وسپارلو. (۲۱)

## " حضرت سعید (رض) "

د حضرت سعید (رض) کنیت ابوالاعور ؤ، د پلار نامه ئې زید او مور ئې فاطمه نومیده . (۲۲)

څنګه چې خوږ نبي (ص) د نبوت دعویٰ وکړه نوحضرت سعید فورا" په دغه دعوت لبیک اووې او د خپلې کوروداني فاطمه سره ئې ایمان راوړو. دغه وخت لا دارارقم هم د اسلام د دعوت مرکز نه ؤ ګرځیدلې چې دوئ مسلمانان شول. (۲۳)

"د جنګ بدر نه علاوه ئې نورو ټولو غزاګانو کښې برخه اخستې ده....دغه شان د دمشق او یرموک په جنګونو کښې لویه بهادري او قرباني ښکاره کړه.

ابو عبیده دوئ ته د دمشق ګورنري سپارلې وه خو د دوئ د جهاد سره دومره مینه وه چې دغه عهده ئې قبوله نه کړه. (۲۴)

" د شام د فتح نه پس چې حضرت سعید مدینې واپس تشریف راوړو نو د عقیق په مقام ئط خانله کور جوړ کړو. او پاتې شوې ژوند ئې په ارام تیرولو ، یوه ورځ ناڅاپي هغوي ته د معدې تکلیف شروع شو او دغژ تکلیف هغوئ د مرګ غیږې ته یوړل، دا د ۵۱ هـ یا ۵۲ هـ کال ؤ چې هغوي ددې فاني دنیا نه رحلت وکړو. (۲۵)

**'' حضرت ابو عبیده** (رض)''

''د دوئ نامه عامر وه، کنیت ئې ابو عبیده او لقب ئې آمین الامه ته لرلو، د پلار نوم ئې عبدالله بن جراح ؤ، ددوئ د نسب سلسله په فهر بن مالک باندې رسول الله ته رسي. '' (۲۶)

'' کومو خلقو چې حبشې ته هجرت وکړو او د الله په کښې ئې خپله خاوره پریښوده، په هغوي کښې سیدنا ابو عبیده هم ؤ، دوئ دوه ځله هجرت کړې دے. مدینې ته چې ټولو اصحابو هجرت وکړو نو دوئ هلته تشریف یوړو. (۲۷)

''ابو عبیده په بدر کښې شریک شوې دے او په دغه جنګ کښې خپل پلار قتل کړې دے (۲۸)

دوئ د کفر او اسلام په ټولو جنګونو کښې د حضور (ص) سره اوږه په اوږه جنګیدلې ....او د خپلې بهادرۍ او نرتوب جوهر ئې ښودلي دي. (۲۹)

ابو عبیده په اتلسمه هجرۍ کښې په حق ورسید. په دغه وخت د هغه عمر اته پنځوش کاله وو. (۳۰)

**'' حضرت عبدالرحمان ''**

'' ددې جنتتي صحابي نامه عبدالرحمٰن او کنیت ئې ابو محمد ؤ. د پلار نوم ئې عوف ؤ. .... د مور نامه ئې شفا بنت عوف بن عبدبن حارث بن زهره وه. دده د مور او پلار دواړو تعلق د بنو زهره قبیلې سره ؤ. (۳۱)

حضرت عبدالرحمٰن په بدر کښې وجنګيدو ، او د عمير بن عثمان سر ئې په توره قلم کړو ، په احد کښې زخمي شو يوويشت زخمونه ئې په وخوړل، يوه پښه ئې ژوره زخمي شوه ددغې زخم نه ټول عمر ګډ ګډ ګرځيدو ، د غزوه تبوک په موقع ئې د خپل کور ټول سامان د الله په لار کښې ورکړو. (۳۲)

هغه په ۲۳ / هـ کښې د پنځه اويا کاله په عمر کښې ددې فاني دنيا نه لاړ، حضرت عثمان بن عفان ئې جنازه ادا کړه او په جنت البقيع کښې ئې دفن کړو. (۳۳)

دغه شان خوشحال بابا ديو بل مشهور صحابي حضرت انس (رض) تذکره داسې کوي.

د رسول انس اصحاب ؤ روايت ئې باصواب ؤ (۳۴)

" **حضرت انس** (رض) "

حضرت انس د رسول (ص) خادم خاص ؤ ،د پلار نامه ئې مالک بن نضر النصاري وه. او مور بي بي ئي ام سليم نوميده. عمر ئې ايله لس کاله وو. چې مور ئې د خوړ نبي (ص) په حضور کښې د خدمت دپاره پريښودو ، او تر لسو کالو پورې د حضور (ص) په خدمت اقدس کښې تير کړل. (۳۵)

" حضرت انس د ژوند په آخري ورځو کښې بصرې ته لاړ او هلته په ۹۰ هـ يا ۹۱ هـ کښې وفات شو ، په دغه موقع يو کس اووئيل چې نن د دنيا نه نيم علم رخصت شو. (۳۶)

دستر خوشحال يو بل تلميحاتي شعر ته پاملرنه وکړئ وائي

له منبره ئې آواز کړ ساريه ئې په غره ساز کړ (۳۷)

دې شعر کښې د حضرت ساريه (رض) هغې واقعې پله اشاره ده ، کومه چې د فساء او دارالجبرو د محاصرې په وخت دغې نوميالي صحابي ته مخې ته راغلې وه.

" **حضرت ساريه** "

" د دوئ تعلق د کنانه قبيلې سره ؤ ، د دوئ ورور اسيد شاعر ؤ ، کله چې مکه فتح شوه نو دواړه ورونه د حضور (ص) په خدمت کښې حاضر شول او اسلام ئې قبول کړو. " (۳۸)

دا هم هاغه جليل القدر صحابي دے چې په ذکر شوي جنګ کښې ورته حضرت عمر (رض) د خطبې په دوران کښې اواز وکړو.

"ساريه بن زنيم غر طرف ته وګرځه ، غر طرف ته. .... هم په دغه وخت حضرت ساريه خپل فوځ غر طرف ته وګرځوؤ و او د دښمن سره ئې يو اړخيز جنګ وکړو، ډير سپايان ئې ورله قتل کړل. او دا رنګ مسلمانانو دغه جنګ وګټو. (۳۹)

" دے جنګ کښې مسلمانانو ته بې حسابه مال ، سره او جواهر په غنيمت کښې لاسو ته وراغلل، په دغه غنيمت کښې يوه ډکه د جواهرو ټوکرۍ هم مسلمانانو ته په ګوتو وراغله، حضرت ساريه دغه ټوکرۍ مجاهدنيو ته هبه کړه او د فتح د زيري سره ئې حضرت عمر (رض) ته اوليږله. (۴۰)

دحضرت عمر (رض) يادؤنه هم خوشحال بابا پخپل کلام کښې ځائې په ځائې کړې ده. دا لاندېني اشعار ئې وګورئ.

چې باني د احتساب ؤ
عمر زويه د خطاب ؤ
په اسلام چې ارجمند شه
د دين کار وته څرګند شه (۴۱)
چې عمر خلافت بياموند
دين له ده نه قوت بياموند (۴۲)
بادار غلام يو برابر دي
خليفه ئې چې عمر دي (۴۳)
د فرقان په هايت فاروق پوهيږي
نه بوجهل بولهب ته هدايت کا (۴۴)

د حضرت عمر (رض) نه علاوه د حضرت عثمان او حضرت علي (رض) په برکتي تذکره هم ستر خوشحال بابا خپل کلام ته ښائست بخښلې دے ، دا شعرونه ئې ملاحظه کړئ.

د عثمان تونګري غنا ځاي وه
د علي په خرڅيدو واړه ګټنه (۴۵)
د هغو په مرګ ثواب ګټلې بويه
چې بدګوئي د ذي النورين او د حيدر دي (۴۶)

په عثمان باندې به څه وائم چې څو يم
په هزار رنګه ميئن يم په حيدر (۴۷)
چې په بغض د علي يا د عمر دي
رافضي دي خارجي دي خللي (۴۸)
په ولا که د علي رافضي کيږي
سکه خوشحال ئې په ولا کښې مشخص (۴۹)
که نور په نورو چارو جلي ستايم
زه به د تورو په کار علي ستايم
ورور د رسول باندې ښائيږي
که ئې له فرقه بيا تر تلي ستايم (۵۰)

ددې ذکر شوؤ اصحاب کرامو نه علاوه خوشحال بابا ځنې نور اصحاب کرام او اهل بيت هم پخپل شعر کښې ستائيلي او ځائې کړي دي خو د ليکنې د اوږديدلو په اساس د هغوي تذکره بلې څيړنې ته ځنډولې شي . په هر طور ددې څيړنې په رڼا کښې مونږ وئيلې شو چې ستر خوشحال د خپل مذهب ژوره مطالعه درلودله او بيا په تيره تيره د اسلامي تاريخ خو ئې غرقه لوسته کړې وه ځکه چې که دغه بره اشعار مونږ په دغه نقطه نظر اوسنجوؤ نو ډير لوئې بحث پرې کيدې شي د څه نه چې د خوشحال بابا د شخصيت د پوهې د علميت او د ديني آګاهۍ بلا اړخونه او نوي نوي زاويې رابرسيره کيدې شي.

# حواله جات

۱ـ خټک ، خوشحال خان، کلیات خوشحال خان خټک ، مرتبه دوست محمد خان کامل موmند ، اداره اشاعت سرحد پشاور، ۱۹۶۰ء ، ۳۰۴ مخ
۲ـ کلیات خوشحال (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ۶۸۱ مخ
۳ـ خټک ، خوشحال خان، سوات نامه ، مرتبه همیش خلیل ، مرکزي خوشحال ادبي ثقافتي جرګه اکوړه خټک ، ۱۹۷۶ ء ، ۷۱ مخ
۴ـ محمد رضا ، علامه ، سیرت صدیق اکبر ، مترجم مولوی محمد عادل قریشي ، تاج کمپني لمیټډ کراچي ، ۴ مخ
۵ـ کلیات خوشحال (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ۳۵۵ مخ
۶ـ همدغه کتاب ۱۶۰ مخ
۷ـ همدغه کتاب ۵۱۵ مخ
۸ـ ابو سلیمان ،منصور پوري، علامه، ۳۱۳ـ اصحاب بدر ، ناشر ، محمد طارق چوهدري ، ۲۰۰۰ء ، ۱۹۹ مخ
۹ـ سید احمد ، مولانا ، غلامان رسول، ګلاب پبلیشرز لاهور، س.ن ، ۵ مخ
۱۰ـ همدغه کتاب او هم دغه مخ
۱۱ـ همدغه کتاب ۸ مخ
۱۲ـ کلیات خوشحال (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ۳۵۵ مخ
۱۳ـ اعظمي ، عبدالمصطفيٰ ، علامه ، کرامات صحابه، کمبائیڼډ پرنټرز لاهور، ۱۴۰۲ هـ ۱۶۸، ۱۶۹ مخونه
۱۴ـ خټک، خوشحال خان، فضل نامه ، مرتبه سید عبد الشکور ، اداره اشاعت صوبه سرحد پشاور، ۱۹۵۲ ء ، ۳۰ مخ
۱۵ـ همدغه کتاب او همدغه مخ

۱۶ـ طالب هاشمي، تيس پروانے شمع رسالت کے، البدر پبليکيشنز لاهور، ۱۹۸۳ ، ۴۸۸، ۴۸۹ مخونه
۱۷ـ آغا اشرف، مشاهير اسلام، المعارج لاهور، ۱۹۹۰ ، ۸۳ مخ
۱۸ـ نواز روماني ، جرنيل صحابه ، ادبستان لاهور ، ۱۹۹۹ ، ۳۷ مخ
۱۹ـ همدغه کتاب ، ۳۸ مخ
۲۰ـ همدغه کتاب ۳۹ مخ
۲۱ـ همدغه کتاب ۴۵ مخ
۲۲ ـ شمس الدين ، محمد ، سير اعلام لنبلاء ، بيروت ، ۱۹۸۵ء ، ج ۱، ۱۲۴ مخ
۲۳ ـ ابو عبدالله، محمد ، طبقات ابن سعد ،دار المعارف مصر، ۱۹۴۹ء ج ۳، ۲۷۸ مخ
۲۴ـ ظفر، محمود محمد ، حکيم، عشره مبشره،تخليقات لاهور،۲۰۰۵، ۳۸۵ مخ
۲۵ـ طبقات ابن سعد از ابو عبدالله محمد ، ۲۷۹ مخ
۲۶ـ عشره مبشره ، از محمود محمد ظفر ، ۱۸۰ مخ
۲۷ـ عبدالمالک ، محمد ، سيره ابن هشام، مترجم مولوي قطب الدين احمد ، دکن ، ۱۹۴۹ء ، ج ۱ ، ۵۰۴ مخ
۲۸ـ سير اعلام النبلا ء ، از امام شمس الدين محمد ، ج ۱ ، ۸ مخ
۲۹ـ عشره مبشره از محمد محمود ظفر ، ۱۸۷، ۱۸۸ مخونه
۳۰ ـ همدغه کتاب ۲۱۲ مخ
۳۱ ـ هدغه کتاب ۲۷۹ مخ
۳۲ ـ غضنفر ، محمود احمد ، مولانا ، مبشر صحابه، حدبيه پبليکيشنز لاهور، س، ن، ۱۹۶، ۱۹۷ مخونه
۳۴ـ اصفهاني ، ابي نعيم ، حافظ، حليته اولياء لا بي نعيم، دار الکتاب العربي ، بيروت ، لبنان ، ۱۹۸۰ء ، ج ۱ ، ۱۰۰ مخ
۳۴ ـ فضل نامه از خوشحال خان خټک ، ۳۰ مخ O

۳۵ـ الحميري ، امام مالک بن انس ، موطا امام محمد ، مترجم الحاج نذر احمد ، اسلامي اکادمي لاهور، ۱۹۹۰ ء ، ۵۴۴ مخ
۳۶ـ همدغه کتاب او همدغه مخ ۳۷
۳۷ـ خټک ، خوشحال خان ، اخلاق نامه مرتبه حبيب الله رفيع ، افغاني کلتوري ټولنه نيدر ليند (هاليند) ، ۲۰۰۱ ء ، ۶۴ مخ
۳۸ـ جرنيل صحابه ، از نواز روماني ، ۵۳۸ مخ
۳۹ـ هيکل ، محمد حسين ، حضرت عمر فاروق اعظم، مترجم حبيب اشعر، فکشن لاهور، ۲۰۰۲ء ، ۴۶۵ مخ
۴۰ـ جرنيل صحابه از نواز روماني ، ۵۴۰ مخ
۴۱ ـ اخلاق نامه از ، خوشحال خان خټک ، مرتبه حبيب الله رفيع ، ۱۳ مخ
۴۲ ـ همدغه کتاب ۱۴ مخ
۴۳ ـ همدغه کتاب ۱۵ مخ
۴۴ ـ کليات خوشحال (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند) ۲۷ مخ
۴۵ ـ همدغه کتاب ۶۰۱ مخ
۴۶ ـ همدغه کتاب ۳۵۵ مخ
۴۷ ـ همدغه کتاب ۸۶۴ مخ
۴۸ ـ همدغه کتاب ۴۴۹ مخ
۴۹ همدغه کتاب ۴۲۸ مخ
۵۰ ـ همدغه کتاب ۶۸۹ مخ